دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

و برای الله جل جلاله بر مردم حج خانهٔ کعبه حق (فرض) است، بر آن کسیکه توان رفتن به آن (کعبه) را دارد و هر آن کسیکه کافر شود (از تعمیل این امر انکار ورزد پس وی به این بداند که) بیشک الله جل جلاله از عالمیان بی نیاز است.

(سورة ال عمران: ۹۷)

درس حدیث

ابوهریره رضی الله عنه می گوید: شنیدم که رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: هرکس، بخاطر (رضای) خدا حج نمایـد و از مقاربت جنسی و مقدمات آن، (در زمان حج) پرهیز نماید و مرتکب معصیت نشود، چنان از گناه پاک می شود که گویی تازه از مادر، متولد شده است. (صحیح بخاری)

شهادت خلورم کال، ۲۷ مه گنه، پرله پسې ۱۷۸ مه گنه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د تلې ۲۲ مه د۱۴۳۳ هـ ق د ذوالحجې لومړۍ د۲۰۱۲ م د اکتوبر ۱۷ مه

حامد کرزی:

تروریزم هنوز هم یک تهدید جدی برای منطقه می باشد

یک تعداد از گروه های افراطی کوشش دارند که به کشورهای آسیای مرکزی، حتی چین و روسیه هم بروند

کابل، رسنی:
رییس جمهور افغانستان حامد کرزی بار دیگر تروریزم را برای تمام منطقه یک تهدید جدی خوانده، خواهان مبارزهء مشترک علیهء آن شد.
آقای کرزی در مجلس سران کشورهای عضو سازمان همکاری های اقتصادی، ایکو، اظهار داشت اگر اعضای این سازمان از امکانات دست داشته خود استفاده کنند، مشکلات بسیار حل خواهد شد.
این اجلاس بروز سه شنبه ۱۶ اکتوبر در شهر باکو پایتخت آذربایجان بکار شروع کرد که در آن سران ده کشور عضو این سازمان اشتراک دارند.
رییس جمهور افغانستان حامد کرزی می گوید، یک تعدادی از گروه های افراطی کوشش دارند که به کشورهای آسیای مرکزی، حتی چین و روسیه هم بروند.
وی افزود، فعلاً قوای امنیتی افغانستان نه تنها

بقیه در صفحه ۴

په ایران کې د اعدام شوو افغانانو مړي دهغوی پر کورنیو پلورل کیږي

کابل، رسنی:
دهبواد مشرانو جرگې تېره اونۍ په عـمومي غونډه کې په ایران کې د (۲۰۰۰) دوه زره افغان کډوالو په اعدام احتجاج وکړ، دغه کار مشرانو جرگې دهغه افغانانو خبره چې په ایران کې په جرمونو محکوم شوي او شمېر يې له دوو زرو اوړي نه یوازې راپورته کړه بلکه له بهرنیو چارو وزارت نه يې هم غوښتنه وکړه چې په دې اړه دې جدي اقدامات وکړي او دغه کسان دې د دار له پړې وژغوري. دهمدې خبرې را پورته کېدو سره هم دولسی جرگې خو غږو رسنیو ته دنوم نه څرگندولو په شرط وویل چې: دایران حکومت دغه کار ځکه کوي چې افغانسان

پاتې ۴ مخ

زنان می تواند بخاطر کاهش و جلوگیری مشکلات در جامعه نقش مهم داشته باشند

اما شماری از سناتوران می گویند، در شرایط کنونی زنان نمی توانند در تامین صلح نقش داشته باشند

کابل، رسانه ها:
مشرانو جرگه افغـانستـان روی قطعنامه شورای امنیت سازمان ملل متحد که در مورد نقش زنان در حل مشکلات جامعه صادر کرده است، بحث نمودند.
با آنکه قطعنامه شورای امنیت سازمان ملل متحد یازده سال قبل صادر شده است اما حالا مشرانو جرگه از حکومت افغانستان می خواهد تا این قطعنامه را عـملی نماید.
وکلا به روز سه شنبه در جلسه عمومی شان در مورد محتوای این قطعنامه بحث های گسترده را انجام داده گفتند، زنان می تواند بخاطر کاهش و جلوگیری مشکلات در جامعه نقش مهم داشته باشند.
نجیبه حسینی یکتن از این سناتوران:
"چیزی که در این قطعنامه آمده حمایت از حقوق زنان است واقعاً این یک رهنمای است که از سوی شورای امنیت تصویب

بقیه در صفحه ۴

پیام تبریکی وزیر معادن

جناب محترم عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

مسرت دارم که شما جناب عالی از طریق انتخابات آزاد حزبی، سمت ریاست حزب اسلامی افغانستان را در نتیجه انتخابات دور دوم کمائی نموده اید از صمیم قلب برایتان تبریک و تهنیت گفته از بارگاه ایزد متعال موفقیت شما را در عرصه خدمت به وطن و ملت عزیز استدعا دارم.
در فرجام با تجدید احترامات فایقه صحتمندی جناب عالی را تمنا دارم.

با احترام
وحیدالله "شهرانی"
وزیر معادن

د ستراتیژیک سند د تطبیق په اړه د افغانستان او بریتانیا لومړنۍ غونډه

کابل، رسنی:
په افغانستان کې د امنیت ټینگښت، ښه حکومتداري، پراختیا، بهرنی پانگه اچوونه او له تروریزم سره پر جدي مبارزې ټینگار د افغانستان او بریتانیې د دې گډ کمیسیون د لومړنۍ غونډې اصلي اجنډا وه.
د افغانستان او بریتانیې ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو سند د عملي کیدو د څارنې د گډ کمیسیون دا غونډه د سې شنبې په ورځ د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزارتونو د مرستیالانو په سطح په کابل کې جوړه شوه.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال جاوید لودین د بریتانیې د بهرنیو چارو وزارت له مرستیالې سره په یوه گډ خبري کنفرانس کې وویل، چې

افغانستان او بریتانیا ښې اړیکې ټینگې کړي او د همدې اړیکو پراساس بریتانیا له دې هېواد سره

پاتې ۴ مخ

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

صفحه سوم

فضیلتهای حج

مولوی محمود درسوال

صفحه سوم

په کندهار کې د شنبې ورځې حمله چا کړې؟!

کابل، رسنی:
په افغانستان کې مېشت نړیوال ځواکونه وايي هغه ځانمرگی، چې د روانې اونۍ په پیل کې يې په کندهار کې دوه امریکایي پوځیان او څلور افغان استخباراتي مامورین ووژل، د افغانستان د ملي امنیت د اداري مامور و.
خو د افغانستان د ملي امنیت او د کورنیو چارو وزارت د نړیوالو ځواکونو ادعا ردوي او وايي چې حمله کوونکی وسله وال طالب و.
د افغانستان حکومت همداراز وویل چې ایتلافي ځواکونو په افغانستان کې د طالبانو پرضد په وروستی حمله کې د یوې کورنۍ درې افغان ماشومان، چې دوه هلکان او یوه نجلۍ وه، وژلي دي.
د شنبې په ورځ د کندهار ولایت په معروف ولسوالۍ کې یوه ځانمرگي هغه مهال د دې ولسوالۍ د امنیت د اداري په دروازه کې خان والوخاوه چې د امریکایانو په شمول د

پاتې ۴ مخ

جهاد له کومه ځایه پیل شي د هیرامنډۍ که له کابله؟!

عبد الله کامه وال

د پاکستان د کرکټ پخوانی لوبغاړي او د تحریک انصاف مشرعمران خان په افغانستان کې روانه جگړه جهاد وباله، عمران خان وايي هر هغه ولس چې د خپل هیواد د آزادۍ لپاره جنگېږي داجنگ نه بلکې جهاد دی، اوافغانان دهیواد دازادۍ جگړه کوي دا جگړه نه بلکې جهاد دی.
د شریعت او دین نه ناخبره مفتي عمران خان پدې فتوا تردې دمه بیلابیل غبرگونونه څرگند شوي اوهرچا د عمران خان دا ډول فتوا احمقانه بللې چې پدې کې ځینې يې پاکستاني سیاستوالو هم دي، پاکستاني سیاستوال دعمران خان فتوا دهغه سیاسي نا پختگي گڼي، اووايي چې له عمران خانه دیوسیاسي لیډر توقع نه ده پکار، عمران خا ن غواړي پداسې څرگندونو له یو پلوه دپاکستان استخبارات خوشاله کړي اوله بله پلوه...

پاتې دویم مخ

PROPERTY OF ACKU

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د افغانستان راتلونکې پخپله د افغانانو له کردار سره تړاو لري

په پام کې ده چې له ۲۰۱۴ میلادي کال وروسته بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي، خو د غربیو رسنیو ترڅنګ ځینې افغاني رسنۍ هم دا افواهات او ویرې خپروي چې له افغانستان نه د بهرنیو پوځونو له وتلو سره سم به یو ځل بیا په افغانستان کې خپلمنځي جګړې پیل شي، حکومت به سقوط وکړي، ملي اردو او ملي پولیس به له منځه لاړ شي او هېواد به یو ځل بیا د خپل منځیو جګړو په ډګر واوړي، ډېری افغانان هم دا پوښتنې کوي چې آیا امریکایي او ناټو ځواکونو له وتلو وروسته به افغانستان یو ځل بیا د خپلمنځیو جګړو ډګرونه ګرځي؟ که څه هم دا څرګندوني او اندېښنې له یوې سره بې ځای او بې بنسټه نه دي او تر یوې حده پر حقایقو ولاړې دي خو که چېرته د افغانستان د ټولو سیاسي ګوندونو مشران، علماء، سپین ږیري، لیکوالان، ادیبان، خطیبان، شاعران او استاذان د افغانستان د راتلونکې په اړه خپل مسؤولیت په سمه توګه ترسره کړي او له همدا اوس نه د افغانستان د راتلونکې په باب د غونډو، مذاکرو او مشورو ترتیبات ونیسي نو بیا په پوره ډاډ سره ویلی شو چې د افغانستان د راتلونکې په باب د هېڅ قسم اندېښنې ضرورت نشته او إن شاء الله د افغانستان امن او سلامتیا به له هېڅ ډول ګواښونو سره نه مخامخ کېږي.

لدې واقعیت نه سترګې نه شو پټولې چې افغانستان د افغانانو ټاټوبې دی نه د بل چا، نو ځکه دا د افغانانو مسؤولیت دی چې د خپل هېواد د سلامتیا او استحکام لپاره مؤثر او ګړندي ګامونه اوچت کړي، څرنګه چې دا نړۍ په ګڼو هېوادونو وېشل شوې او هر څوک د خپلې برخې خاورې او هېواد د آبادۍ او ساتنې مسؤول دی همداسې افغانان هم د خپلې برخې هېواد د آبادي او ساتنې مسؤولیت په غاړه لري، دا تمه او توقع کول چې بل څوک دې د افغانستان ساتنه وکړي غټه اشتباه ده او پخپله به دې خبره اعتراف کول دي چې موږ د خپلې خاورې او ولس د خدمت او ساتلو اهلیت نه لرو، څرګنده خبره ده چې هر څوک د خپل وطن د ساتلو او خدمت اهلیت نه لري هغه کله هم د خپلواک ژوند دعوه نشي کولې، د خپل هېواد او خاورې د ساتلو مسؤولیت بل چاته ورکول په حقیقت کې له خپل استقلال او خپلواکۍ نه لاس وینځل او پخپله خوښه د بل چا د غلامۍ حلقه په غاړه کول دي.

الحمدلله موږ افغانان د نړۍ پرمخ له بل هر چانه زیات د خپل هېواد د دفاع او خدمت ځواک لرو او ددې خبرې بشپړ استعداد هم لرو چې خپل هېواد د سولې، امن او استحکام په جنت بدل کړو، خو دا هله چې زموږ چارواکي، سیاسي او مذهبي مشران د خپل هېواد او ولس په اړه خپل درونه مسؤولیت وپیژني خپل شخصي او ګوندي ګټې د هېواد او ولس له ګټو نه قربان کړي، د څو محدودو قومونو او اشخاصو د ګټو پرځای د افغانستان د ګرد ولس ګټو ته لومړیتوب او د ټول ولس د خدمت لپاره د همت ملا وتړي، د افغانستان لویشت لویشت زمکه د خپلې خاورې نه بېلېدونکې حصه وګڼي، ټول په ګډه د یو پلار او د یو مور د زامنو په څېر په بشپړ اخلاص او یووالي د افغانستان د استحکام، سلامتیا او ترقي لپاره د عمل ډګر ته ودانګي، د قوم، ژبې، رنګ او سمت په نوم جوړ شوې ټولې شیطاني ډلې ټپلې ختم او پرځای د ګردو افغانانو د ګټې سیاست پرمخ یوسي، د قوم، ژبې، رنګ او نسل تر نامه لاندې سیاست دی د خنزیر د غوښې په څېر پخپل ځان حرام وګرځوي، یواځې د یو نژاد د حقوقو د دفاع پرځای دی د افغانستان د هر وګړي او هر نژاد د حقوقو دفاع پخپل ځان فرض وګرځوي.

د افغانانو لوی او بنیادي نقصان د قانون له چوکاټ نه وتلې خپلمنځي خودسرانه اختلافات دي او همدغو اختلافاتو له دغه بد او بوږنوونکي حالت سره مخامخ کړي یو، تر څو پورې چې له دغو غیر قانوني او ناروا خپلمنځیو اختلافونو څخه لاس په سر نه شو په افغانستان کې نه امریکا او ناټو پوځونه امن راوستلی شي او نه هم د بل کوم هېواد ځواک، نو ځکه ددې خبرې ضرورت دی چې د افغانستان ټول مخالف سیاسي ګوندونه له ماضي نه د عبرت درس واخلي، د غفلت له درونه خوب نه ویښ او د حقایقو په وړاندې د تسلیمي سر په ایښودو خپلو هغو سترو اسلامي مسؤولیتونو ته متوجه شي چې الله جل جلاله او دهغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم ورته په غاړه کې اچولي او امر یې ورته کړی چې: ای مؤمنانو ! تاسې د الله پر دین کلک منګولې ولګوئ او پخپلو کې له اختلاف نه ډډه وکړئ. همدا شان الله تعالی د انفال د سورې په ۴۶ آیت کې په څرګندو ټکو کې په قاطعیت سره فرمایلي دي چې: ای مؤمنانو ! یواځې او یواځې د الله او رسول اطاعت وکړئ او پخپلو منځونو کې جګړې مه کوئ که نه نو تاسې به کمزورې، او قوت به مو ضایع شي. د الله تعالی له دغو لارښوونو څخه دا ترلاسه کېږي چې د افغانانو ستر بری د الله تعالی او دهغه د رسول په اطاعت او یووالي کې دی، چې کله هم د افغانستان مشران او ولسونه د الله او دهغه رسول اطاعت ته غاړه کېږدي او د وروری او اتفاق په تغر کېني نو د ډېرو افغانانو اندېښنې به پخپله ختمې او افغانستان به د سولې، امن، خوشالي او ترقي ټاټوبې شي.

جهاد له کومه ځایه پیل شي

د هیرامنډۍ که له کابله ؟!

(د لومړی مخ پاتې برخه)

...په راتلونکو ټاکنو کې له طالب ذهنه پاکستانیانو ملاتړ ترلاسه کړي خو په ټوله کې باید و ویل شي چې دا ډول څرګندونې د یو سیاست مدار کار نه بلکې دیو دیني عالم اومفتي کار دی، خو یو شمېر افغانانو یې بیا پر وړاندې سخت غبرګون ښودلی اودعمران خان څرګندونې یې غیر مسؤولانه اوله حقایقو لرې ګڼلې دي دتحریک انصاف دمشر په څرګندونو عام افغانان هم قهریدلي چې په یو شمیر ولایتونو کې عامو خلکو او دمکاتبو شاګردانو لاریونونه هم وکړل اود عمران خبرې یې دافغانستان په چارو کې لاسوهنې و ګڼلې؛ که څه هم دالومړی ځل نه دی چې یو پاکستانی سیاست مدار دافغانستان په هکله داډول غیر مسؤولانه څرګندونې کوي بلکې تردې وړاندې هم دپاکستان مذهبي او سیکولر مشرانو دافغانستان په هکله ورته زهرجنې خبرې کړي چې زموږ په هیواد کې داور لمبو ته تر لمن وهلو کمې نه دي سره د دې چې د افغانستان ولس او دولت یې ټولو ګاونډیانو او په ځانګړې توګه پاکستان ته دګاونډي او یو مسلمان ورورهیواد په سترګه ګوري او ښه نیت او اخلاص ورته لري چې ښه مثال یې دخیبر پختونښوا دسوات په سیمه کې زده کونکې ملالۍ یوسفزۍ دټپي کیدو پېښه ده پرملالۍ یوسفزۍ برید زموږ په ټول هیواد کې دهرې کچې خلکو غندلی اوعام ولس تر څنګ یې په ګڼو برېښنایي ، لیکنی اوتصویري رسنیو کې دولسمشر کرزي اوپوهنې وزارت پیغامونه ترسترګو شول ولسمشر حامد کرزي پر ملالې یوسفزۍ برید پر تعلیم او مکاتبو برید ګڼلې او ورته برید یې دانسانیت ددښمنانو کار ګڼلی د پوهنې وزارت له خوا خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د وزارت مقام په هېواد کې د ټولو ۵۵۰۰ ښوونځیو سرښوونکو ته هدایت ورکړی و چې د شنبې په ورځ د اکتوبر د میاشتې پر ۱۳مه د ملي سرود وروسته دې ټول زده کوونکي او ښوونکي د سوات ټپي شوې زده کوونکې ملاله یوسفزۍ ته د روغتیا لاسونه لپه کړي، د ښوونې او روزنې وزارت لخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې د آغلې یوسفزۍ ترڅنګ په هېواد، سیمې او نړۍ کې په زده کوونکو بریدونه غندل شوي او داسې بریدونه یې پر انسانیت بریدونه ګڼلي ، موږ هم نه یوازې دا، چې پر ویاړلې ملالې یوسفزۍ برید غندو بلکه په هېواد کې ټول هغه بریدونه چې پر معصومو زده کوونکو کېږي غندو او یو جاهلانه عمل یې بولو موږ ټول ماشومان د مشرق دي که د مغرب معصوم بولو او دښه ژوند غوښتونکي یې یو اوله نورو مو هم همدا هیله ده چې زموږ ماشوم او زموږ زده کونکي ته دخپل ماشوم په څیر وګوری، پرغم یې غمژن او په خوشالی یې خوشاله شي زموږ ماشوم هم د تعلیم اوتحصیل حق لري هغه هم دملالې په څیر ارمانونه لري اودکورنۍ غړي یې ورته هیلې اوارزوګانې لري دخدای لپاره زموږ دماشومانو مکتب مه سیزۍ زموږ ماشومان مه حلالوئ او د کفر فتوا پرې مه ورکوئ، راشئ هره ماشومه ملاله وګڼو هغوی ته دتعلیم اوژوند حق ورکړو که هغه دهرمذهب او هرې ژبې ویونکې وي خوماشوم دی، هغه شاعر څه ښه وایي ماشومان که دمشرق که مغرب وي دژړا اودخندا انداز یې یو دی، موږ ته دملالې درد اودکورنۍ غم خپل درداوغم ښکاري اوله نورو اوپه ځانګړې توګه له ګاونډیانو هم همدا هیله لروچې که په درد مو نه دردمند کېږي نو د ژړا پورې مو دې نه خاندي افغانان خپلو ټولو ګاونډیانو اوپه تیره بیا د کوزې پښتونخواه له خلکو سره ځانګړې مینه لري، خپل دویم کور یې ګڼي اودروسانو پروړاندی د افغان جهاد او مبارزې دسنګر په سترګه ورته ګوري ځکه خو په پښتونخوا کې پر یوې معصومې انجلۍ برید نه یوازې د افغانستان ولسمشر بلکې په کوردننه او بهر ټولو افغانانو په کلکه وغندلو، خوپاکستاني سیاستوال او مذهبي مشران بیا زموږ دماشوم وژل زموږ دعالم ترور او زموږ دمکتبونو سیزل او پلونو ورانول جهاد ګڼي او یو شمېر بې تعلیمه، د اسلام له سپیڅلي دین اواسلامي تعلیماتو ناخبره اوبې علمه ځوانان دې ته هڅوي، چې پر بې ګناه ولسي وګړو ځانمرګي بریدونه وکړي خپل کورونه وران، او خپل ورونه شهیدان کړي اوپدې توګه جنګ ته دوام ورکړي د هڅونو، تمویل اوفتوو دا لړۍ له تیرو یو لسو کلو دوام لري.

خو دا ځل دا فتوا دیو دیني، مذهبي عالم او ملا پرځای یو سیکولر او عیاش طبعیته انسان عمران خان چې دژوند یوه زیاته برخه یې په عیاشۍ او بې بندو بارۍ کې تیر کړې ورکړه هغه عمران خان چې دخپل مالي اوبهرني سیاسي ملاتړ په خاطر یې له یوې شتمنې اوحسینې یهودۍ سره واده وکړ چې له یوپلوه مالي ملاتړ ترلاسه کړي اوله بله پلوه دپاکستان سیاسي طراح انګلستان ته خان نیږدې کړي خو کله چې یهوده حسینه او شتمنه جمایمه خان پدې وپوهیده چې عمران له ده سره نه، بلکې د ده له مال او برتانوي ملاتړ سره واده کړی اودې ټوله ورځ له نورو نجونوسره په نایټ کلبوکې شپې تیره وي نو په خپله مخه ولاړه او له مفتي عمران نه زیږیدلي دوه اولاده یې هم له ځانه سره یوړل که تیرې یکشنبې په شپه دژوندون تلویزیون هغه راپورچې عمران پرژوند جوړشوی و چا لیدلی وي او دعمران خان اود ښځې جمایمه خان پر لغړو او فاحشو تصویرونوسترګې لیګیدلی وي نو دسیکولر او عیاش طبیعته عمران اسلام او مسلماني به ورته ښه معلومه شوي وي عمران هر څه ته د کرکټ په اینه کې ګوري خو دین دین دی، سیاست سیاست اولوبې لوبې هغه څوک چې بسم الله سمه نه شي ویلی دهغه له دیني او فقهي مسایلو سره څه؟

زما په اند دعمران خان لمونځ به هم سم یاد نه وي خو دیو مفتي په څیر په ډیره سپین سترګی وایی چې په افغانستان کې روانه جګړه جهاد دی زه نه پوهیږم عمران له کومې مدرسې فارغ دی اوپه کوم دلیل یې دا فتوا ورکړې که دی غواړي چې پداسې فتو مذهبیان خپل کړي فکر نه کوم خو له کله نه چې دعمران خان سیاسي بازارتود شوی نو زه یې کله نا کله دجلسو او جلسونو ویناوې درسنیو له لارې اورم اوچې کله مې هم د دې عیاش طبیعته انسان وینا اوریدلې نو د دود سره سم یې خپله احساساتي وینا په بسم الله پیل کړې خو هروار یې بسم الله غلطه ویلې نو ځکه وایم چې لمونځ به یې هم دبسم الله په څیر غلط وي نو هغه څوک چې بسم الله سمه نه شي تلفظ کولایی په نورو فقهي اوعقیدوي مسایلو به څه پوه شي اوکه چیرې پوهیږي نو بیا دې عمران خان جهاد له هیره منډۍ پیل کړي په کوم ښار کې چې دی اونور مفتیان پیداشوي هغه هیرا منډۍ چې دپاکستان له ګوډ ګوډنه راغلې فاحشې نجونې پکې دخپل جسم او حسن سوداکوي هغه هیرا منډۍ چې دپاکستاني سیاستمداروډ عیاشۍ او دحسینو نجونود حسن اوعزت دلوټ مار ځایی دی هغه هیرا منډۍ چې ستاد چارواکو دمیلو او چړچو ځای دی هغه هیره منډۍ چې ستا پاکستاني لیکوال ستاپر سیاستوالو اوهیرا منډۍ (پارلمنټ سی بازارې حسن تک) له پارلمنټه تر بازار حسنه پورې ، په نامه کتاب لیکلی ایا هلته جهاد نه دی فرض که عمران خان د جهاد په احکامو پوهیږي نو جهاد دفساد په مقابل کې فرض دی او دلاهور ښار زړه او دباشاهي جمات ترڅنګ اوږده کوڅه دفساد داسې یو مرکز دی چې بیلګه یې دسیمې په هیوادو کې نه لیدل کیږي احساساتي سیاستمداره ! جهاد له هغه ځایه پیل کړه، موږ ته جهاد مه ښایه له خپله کوره اوجمایمه خانه یې پیل کړه اول خپل کور اصلاح کړه بیا دنور دروازې وډبوه.

فضیلتهای حج

مولوی محمود درسوال

حج فضیلتها، منافع و فوائد زیادی دارد که برخی از آنرا تحت عنوان حکمتهای فرضیت حج تحریر خواهیم کرد و برخی دیگری از آنها از احادیث مبارک و دلائل ذیل معلوم میگردد:

۱- حضرت ابو هریره رضی الله عنه چنین فرموده است:

ترجمه: ((از حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسان کرده شد که کدام عمل بسیار خوب است؟ فرمود ایمان به (وجود و یگانگی) الله و پیامبر او تعالی، باز در سوال گفته شد که بعد از آن؟ فرمود: جهاد فی سبیل الله، (باز هم در سوال) گفته شد که بعد از آن؟ فرمود: حج مبرور)). (صحیح البخاری، جلد اول، صفحه ۲۰۶، مشکوه المصابیح صفحه ۲۲۱)

البته از روی حدیث مبارک فوق و برخی از روایت های اسلامی دیگر استفاده میشود که حج مرادف جهاد فی سبیل الله است و این هم یک دلیل قوی فضیلت حج میباشد.

۲- حضرت ابو هریره رضی الله عنه گفته که حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم چنین فرموده است:

ترجمه: ((هر کسیکه برای (رضاء) الله تعالی حج را اداء کرد (و در اثناء اداء کردن آن) جماع و دواعی جماع را مرتکب نشد و سخنان بد نه گفت و مرتکب کدام گناهی و عمل ناشایسته نشده پس وی (از گناه) چنان (پاک) بازگشت نمود مانند روزی که مادرش وی را (از گناه پاک) تولد کرده بود)) (صحیح بخاری، جلد اول، صفحه ۲۰۶، صحیح مسلم، جلد اول، صفحه ۴۳۶)

۳- حضرت ابو هریره رضی الله عنه چنین روایت کرده است:

ترجمه: ((حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است که یک عمره تا عمرهٔ دیگری برای آن گناهائی کفاره (جبیره و محو کننده) است که در مابین این دو عمره (انجام شده) باشد و برای حج مبرور جزاء (اجر، ثواب و مکافات) نیست مگر جنت)) (صحیح مسلم جلد اول صفحه ۴۳۶، مشکوه صفحه ۲۲۱)

۴- حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه چنین روایت کرده است:

ترجمه: ((حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم چنین ارشاد فرموده است: در مابین حج و عمره متابعت کنید یعنی هر دو را یکی پای دیگر انجام نمائید بیشک این هر دو (حج و عمره) فقر و گناهان را چنان محو و نابود میکند مثلیکه دمهٔ آهنگر رنگ و خیرگی آهن، طلاء و نقره را ازبین میبرد و برای حج مبرور ثواب (اجر و پاداش) نیست مگر جنت)) (ترمذی، جلد اول صفحه ۱۶۷، نسایی، مشکوه ص ۲۲۲)

یعنی در اجر و پاداش حج مبرور خداوند رؤف و مهربان برای حاجی جنت را اعطاء میفرماید.

۵- حضرت ابو هریره رضی الله عنه چنین روایت کرده است:

ترجمه: ((من از حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیده ام که می فرمود: وفدالله تعالی (اشخاص فرستاده شده از جانب الله تعالی یعنی اشخاص فرستاده به امر و ارشاد الهی) سه اند (که آن سه اشخاص) غازی، حاجی و عمره کننده اند)) (نسایی، مشکوه المصابیح، صفحه ۲۲۳)

۶- حضرت ابو هریره رضی الله عنه چنین گفته است:

ترجمه: ((حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم چنین فرمودند: کسیکه برای (به نیت و ارادهٔ) حج کردن یا عمره کردن و یا غزاء (جهاد) کردن (از خانهٔ خود) بیرون شود و (قبل از اداء آن) در راه وفات گردد خداوند تعالی برایش (در عمل نامهٔ آن) اجر و ثواب غازی، حاجی و معتمر را نوشته میکند)) (بیهقی، مشکوه المصابیح صفحه ۲۲۳)

۷- حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما روایت نموده که حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم امر و ارشاد فرموده است:

ترجمه: ((هر گاه با حاجی ملاقی شوید بر وی سلام بگو، همراهش مصافحه کن و برایش بگو که پیش از اینکه به خانهٔ خویش داخل شود برای تو (از خداوند جل جلاله) عفو و بخشش گناها را بخواهد، بیشک برای وی (حاجی) گناهایش بخشیده شده است)) (احمد، مشکوه، صفحه ۲۲۳)

یعنی حاجی از گناه پاک و متسجاب الدعوات میباشد.

۸- حضرت ابو هریره رضی الله عنه روایت کرده که حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرموده است:

ترجمه: ((حج کننده گان و عمره کننده گان وفدالله (فرستاده گان و انجام کننده گان امر و ارشاد الله تعالی) میباشند، اگر ایشان از نزدش (دعاء خیر) مسئلت نمایند آنرا (الله تعالی) اجابت میکند (دعا و مسئلت شانرا قبول مینماید) و اگر از نزدش بخشش (گناهای خویش را) بخواهند، برای شان بخشش مینماید)) (ابن ماجه، مشکوه المصابیح صفحه ۲۲۳)

یعنی حاجی و معتمر مستجاب الدعوات میباشند.

سبحان الله خداوند رؤف و مهربان برای حاجی و عمره کننده به چی اندازه مقام عالی و افتخار نصیب فرموده است.

۹- حج کردن چنان نعمت بزرگ خداوند تعالی است که در شریعت مقدس اسلامی در شکرانهٔ دو رکعت نماز عید سعید قربان واجب شده است.

البته اداء شدن هر رکن از ارکان دین مقدس اسلام چنان نعمت خداوندی است که در شریعت اسلامی اداء کردن شکرانهٔ آن بر مسلمانان لازم کرده شده است، چنانچه در شکرانهٔ نعمت اداء شدن روزه ماه رمضان دو رکعت نماز عید سعید فطر واجب شده و در شکرانهٔ نعمت اداء کردن نمازهای پنجگانه روزمرهٔ هر هفته دو رکعت نماز روز جمعه فرض شده، و در شکرانهٔ نعمت بزرگ اداء کردن حج فرضی اسلامی، اداء کردن دو رکعت نماز عید سعید اضحی واجب گردیده است. و تنها زکات که برای اداء وقت معین ندارد و در یک وقت برای اداء کردن زکات و اجتماع زکات دهنده گان زیاد برابر نمیشود، بناءً در شکرانهٔ آن کدام شکرانهٔ معین و اجتماع لازم نشده است.

۱۰- اداء کردن حج تعهد آن عهد و پیمان ازلی انسان را تجدید میکند که با خالق و پروردگار خویش در ازل کرده و خداوند قدیر و حکیم از نزد شان اخذ کرده وبرایشان چنین خطاب فرموده بود:

ترجمه: ((آیا من پروردگار شما نیستم؟ (انسانها در جواب) گفتند: بلی مایان شهادت میدهیم که تو پروردگار ما هستی(این تعهد گرفتن برای این است تا نشود) که در روز قیامت بگوئید که بیشک ما از این موضوع بی خبر بودیم)) (اعراف: ۱۷۲)

۱۱- حج کردن انسان را به درگاه مقدس الله جل جلاله نزدیک مینماید، قوت و جذبهٔ ایمانی را در فکر، ذهن و روح انسان تحکیم و تقویه میکند و او را در راه حق به قربانی، ایثار، فداکاری، صبر، استقامت، متانت و دیگر اخلاق عالی، اعمال و فعالیت های اسلامی آماده و مهیا مینماید.

خلاصه اینکه حج یک وسیلهٔ بسیار خوب برای به دست آوردن رضاء خداوند رؤف و مهربان، قبول شدن دعاء های خیر، سعادت و نیک بختی دنیا و آخرت انسان میباشد.

جوانان و جامعه مدنی

تورن غلام سخی

(قسمت دوم)

جامعه شناسی سیاسی که اساس جامعه شناسی مدنی را تشکیل میکند در همچو جامعه بحث بالای حکومت ها بوده، زیرا مطلب از شناخت جامعه شناسی طرز حکومت، انواع حکومت و روش حکومت ها میباشد که در برابر جوانان چه نوع پالیسی و سیاست را مشخص می کنند و برای تقویه فکری جوانان و با استفاده از نیروی جوانان بمقاصد سیاسی خویش کار میگیرند. تحول جامعه شناسی به جامعه مدنی بحث زمانگیر گیراست. ولی آنقدر میتوان گفت جامعه مدنی از عیوبیکه در جامعه سیاسی دیده می شود پاک میباشد زیرا اساس این جامعه را آزادی، برادری، عدم خشونت و فرهنگ عالی تشکیل میدهد. فرهنگ انسانی که ناشی از سیر تمدن در جامعه میباشد بر روان جامعه مدنی تأثیر گذار بوده و بر مبنای آن جوانان میتوانند که با داشتن روحیه عالی برخوردار از فرهنگ اصیل مبارزه را با هر نوع نارسایی ها آغاز نمایند. نقش فعال و حساسی جوانان در جامعه مدنی میتواند جلو استبداد، بیروکراسی و فساد طبقاتی را بگیرند و با درک واقعیت ها و حقایق که در جامعه های ساکن و غیر متحرک که بر پایه عقاید خشک و بجا مانده و بی تحرک از رسم و رواج های جاهلانه استوار است میتوانند بر ضد نارسایی ها کمبودیها و مظالم مبارزه کنند.

جوانان پویا و متحرک با نقش که در روند ساختاری جامعه انسانی دارند با دیدن واقعیت های عینی در جامعه قیام مینمایند و برای اصلاح مفاسد و رذایل اجتماعی قدم های متین و ارزشمند بگذارند.

زندگی اجتماعی و تشکیل جامعه انسانی یک امر فطری است، که دو عامل در تکوین جامعه انسانی نقش اساسی دارد:

۱- فطرت

۲- دین

فطرت است که بشر را به طرف خیر میکشاند، در نهاد هر موجودی از موجودات الهی خیر نهفته است، بخاطریکه اصل در ایجاد پدیده ها زیبایی و خیر بوده است و صانع عالم به مقتضای علم قدیم خویش در جوهر عالم آنرا اساس گذاشته است. پدیده های شر در تضاد با پدیده های خیر بوده از تقابل و تصادم و سرکشی از قوانین حاکم بر طبعیت و انسان رونما می شوند. انسانها مطابق هدایات قرآنی همه در عادت خلق شده اند که خداوند آنها را به عادت حنیف پیدا نموده است ولی پدیده شر بعد از طغیان و سرکشی و عناد علیه خیر بمیان آمده است.

دین حنیف الهی در دوام پدیده خیر نقش رهبری کننده را دارد تا زمانیکه مطابق احکام و دستور الهی این پدیده در اطاعت است هیچگاهی از حدود فلاح و رستگاری خارج نمیشود، زمانیکه در برابر احکام الهی قرار میگیرد و آن را با استکبار و سرکشی رد مینماید مطابق قوانین لایتغیر و حاکم به نظام عالم پدیده شر باعث تباهی، فساد در روی زمین می شود. جامعه هم که با اشتراک انسانها روی منافع و مقاصد اجتماعی تشکیل می شود. خارج از این خیر و شر نمیباشد در جامعه که دین حاکم است، پویایی آن جامعه مطابق به فطرت بوده هیچگاهی در آن پدیده های شر اثرات قومی گذاشته نمیتواند. جامعه مدنی اگر به اساس دستورات الهی و فرمایشات پیامبر اکرم صلی الله علیه وسلم تشکل یابد در این شکی نیست جامعه مدنی یک از جوامع که بشر به آرزوی آن در طول تاریخ بوده جوابگوی خواستهای مشروع انسان می باشد زندگی اجتماعی و تشکیل جامعه انسانی یک امر فطری است و طبعیت انسان اقتضای مدنیت در زندگی جمعی دارد. زندگی انسان قراردادی و انتخابی است و دین نقش تعیین کننده را در آن داشته و در بقا و تداوم آن نیز مؤثر است و نهادهای اجتماعی در میزان اثرگذاری شان در جوامع گوناگون تفاوت میباشد. نقش مذهب در سیاست در دو سطح خورد و کلان به عنوان مؤثر ترین عامل تاریخی و اجتماعی با مقایسه با سایر جوامع از درخشندگی بالاتر برخوردار است. نقش جوانان در جوامع مختلف، مختلف میباشد و این تنوع افکار در ساختار جامعه مدنی و انسانی رول مهم و سازندهٔ دارد، جوانان اند جامعه را میسازند، پویایی میدهند، به نواقص پی میبرند، در ساختار آن سهم میگیرند، انقلابها میآفریند، رژیم ها تغییر میدهند، حکوم ها را سرنگون میکنند، با نیروی خلاق که دارند در روند تکامل جامعه و ترقی و پیشرفت و انکشاف بازسازی سهم بسزایی میگیرند. اگر این جوانان تربیت سالم و هدایت نیک نشوند همانست که جامعه بسوی بدبختی و بقای آن از دست میرود. زیرا در این جامعه آفات پدید میآید که با فطرت انسان مخالف بوده و آنچه که با فطرت بشر در تضاد باشد. باعث تباهی بشر میگردد.

ضرور است اینجا ما جوانان را در جوامع مختلف مدنی از نگاه رژیم های مختلف با دسته بندی منظم مورد بحث قرار دهیم تا بدانیم که ایدلوژی ها چه نوع نقش سازنده در حیات جوانان دارد...

ادامه دارد

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

که د هلمند په پیښه کې زیاتی شوی وي، نو عاملینو ته به یې سزا ورکړل شي

نیویارک ټایمز ورځپاڼې په افغانستان کې د قتل په یوه پیښه کې د پینځو بریتانوي عسکرو د لاس درلودلو او د هغوي د تورنیدو په اړه مقاله خپره کړې ده.

د بریتانیې د دفاع وزارت د یکشنبې په ورځ وویل، چې د دې هېواد د شاهي سمندري ځواکونو پینځه عسکر د افغانستان په جنوب کې د یوه وسله وال د قتل په تورنیول شوي دي.

پیښه په ۲۰۱۱ کال کې په هلمند کې شوې ده.

دا اول وار دی، چې په تیرو څه باندې یولس کلونو کې بریتانوي ځواکونه په افغانستان کې په قتل کې د لاس درلودو په تور نیول کیږي.

د نیویارک ټایمز په حواله، د دې پیښې په ارتباط، چې ډیر جزیات یې لا نه دی څرګند شوي، په اول کې نهه تنه عسکر نیول شوي وو خو څلور تنه بیر ته خوشې شول.

د بریتانیې د دفاع وزارت مخکې ویلي وو، چې پیښه په هلمند کې د وسله والو سره تر یوه نښته وروسته رامنځته شوې وه او ملکي وګړو ته زیان نه وو رسیدلی.

نیویارک ټایمز او نورو غربي رسنیو، دا مسله تر هغه وروسته را پورته کړه، چې د پوځ یو مامور د یوې بلې مسلې په ارتباط ونیول شو او بیا د هغه په لپ ټاپ کمپیوټر کې د هلمند د پیښې ویډیو ګانې وموندل شوې.

بریتانوي چارواکي وایي، چې دا پیښه یې د زیاتې څیړنې لپاره د بریتانیې د پوځ د څارنوالی برخې ته چې پر پوځي محاکمو څارنه کوي، راجع کړې ده.

د بریتانیې د دفاع وزارت ویلي، چې مشکوک کسان په توقیف کې دي خو د هغوي نومونه یې نه دي اخیستي.

نیویارک ټایمز وایي، سره له دې، چې دا پیښه د ملکي خلکو د وژلو سره تړاو نه لري، د افغانانو د غبرګون سره مخامخ کیدلای شي اوهم ښایي په دې هېواد کې د سیاسي ثبات د ټینګښت لپاره هڅو ته زیان ورسوي.

نیویارک ټایمز د بریتانې د دفاع د وزیر فلیپ هاموند د یکشنبې د ورځې خبرې راخیستي چې وایي: هر هغه څوک چې دلته فعالیت کوي، د جګړې پر شرایطو او اصولو پوهیږي.

فلیپ هاموند ژمنه وکړه چې که چیرې د هلمند په پیښه کې زیاتی شوی وي نو عاملینو ته به یې سزا ورکړه شي.

بلې امریکایي ورځپاڼې واشنګټن پوست هم د بریتانې د دفاع د وزیر د یک شنبې د ورځې پر خبرو تبصره کړې خو د هغه د خبرو یوه بله برخه یې را اخیستې ده.

فلیپ هاموند د یکشنبې په ورځ وویل چې د دې هیواد زرګونه عسکر به د راتلونکي کال تر پایه له افغانستان څخه وایستل شي.

فلیپ هاموند وویل چې په افغانستان کې د نه نیم زروعسکرو لږ تر لږه ۵۰۰ تنه به سږ کال په ترڅ کې باسي.

بریتانیه غواړي چې د ۲۰۱۴ کال تر پایه خپل ټول عسکر ستانه کړي.

فلیپ هاموند پدې اړه چې د ۲۰۱۳ کال تر پایه به په دقیق ډول څومره کسان د افغانستان څخه وایستل شي خو د یک شنبې په ورځ یې په یوه مرکه کې وویل: سل هاوو نه بلکه په زرګونو عسکر به د راتلونکې کال تر پایه کور ته ستانه کړو.

واشنګټن پوست لیکي چې په تیرو څه باندې یولسو کلونو کې لږترلږه ۴۳۳ بریتانوي عسکر په افغانستان کې وژل شوي دي.

تروریزم هنوز هم یک تهدید ...

برای حفظ امنیت کشور خودشان مبارزه می کنند، بلکه برای جلوگیری از نفوذ افراطگرایی به کشورهای همسایه هم تلاش دارند.

آقای کرزی بروز سه شنبه در سخنرانی خود به جلسهء سران کشورهای سازمان همکاری اقتصادی ایکو که بخش های آن در یک اعلامیه ریاست جمهوری افغانستان به نشر رسیده، هشدار داده است که تروریزم هنوز هم یک تهدید جدی به منطقه می باشد.

تحلیلگران افغان هرچند این نگرانی رییس جمهور کرزی را تایید می کنند، اما می گویند با در نظرداشت تضادهای سیاسی موجود در منطقه، برای ایکو امکان ندارد که در این ساحه همکاری منطقوی را جلب نماید.

عبدالستار سعادت کارشناس امورسیاسی نیز به این مساله اشاره کرده، می گوید، رهبران افغان باید ازتهدید موجود، منطقه و جهان را با خبر نگهدارند. وی می گوید:

"این کشورها که یک عضو مهم آن پاکستان است، اعمال سیاست یا ستراتیژی خودرا طوری طرح نموده اند که بدبختانه بر اساس آن ایکو نمی تواند، اهداف ستراتیژی این کشورها را که با تضادها همراه می باشد، حل کند. اما رهبران ما باید در مراکز منطقوی خود بحیث کشورهای مسوول از ضرر ها و مشکلات آن دیگران را خبر کنند و به نظر من در آینده یک مسوولیت تاریخی بدوش کشورهاي این منطقه گذاشته شده است. "

به گفتهء آقای سعادت برای جلب همکاری درامر مبارزه علیهء تروریزم، سیاست های موجود این کشورها که بر تضاد مبتنی می باشند، باید تغییر کنند.

آقای کرزی در جریان سخنرانیش گفته است، در اسن منطقه شبکهءالقاعده، جنبش اسلامی ازبکستان، تحریک طالبان پاکستانی، جنبش ترکستان شرقی و سازمان های تروریستی چچن فعال اند.

به گفته رییس جمهور کرزی، تروریستان در این منطقه مراکز تعلیمی و پناه گاه دارند که برای از بین بردن آن ها مبارزهء مشترک لازم است.

هرچند رییس جمهور کرزی نام کدام کشور را ذکر نکرد، اما به گفته تحلیلگران، آقای کرزی با این سخنان خود پاکستان را مد نظر داشت، زیرا پاکستان یگانه کشوری است که مراکز گروه های مسلح در آن وجود دارد.

آقای کرزی تاکید نمود که اگر کشورهای سازمان ایکو از امکانات و فرصت های موجوده خود به طور سالم استفاده کنند، بسیاری از این مشکلات حل خواهند شد.

رییس جمهور کرزی همین طور اظهار امید نمود که سرحدات افغانستان سرحدات صلح باشند و افغانستان باید به یک نقطهء وصل بین آسیای مرکزی و جنوبی، چین و شرق میانه تبدیل شود.

په ایران کې د اعدام شوو ...

ولي له امریکا سره داوږدې مودې لپاره ستراتیژیک تړون لاسلیک کړ، ددغه وکیلانو په وینا چې په کابل کې دایران پخواني سفیر فدا مالکي ددغه تړون په مهال ډېر سرګردانه، ورخطا او ستړی و، هره خوا یې منډې وهلې او خینو وکیلانو ته یې دمادي امتیازاتو وړاندیز کاوه څو ددغه تړون مسوده رد کړي او که یې رد نه کړي؛ نو ایران به هغه دوه زره افغانان چې وړوکي جرمونه لري؛ په اعدام محکوم کړي. دمشرانو جرګې غړو دا هم وویل چې دایران سپاه پاسداران جاسوسي خواک ددغه افغانانو په اعدام لاس پورې کړی او په ورځني ډول یې هره ورځ اعداموي.

دبهرنیو چارو وزارت ویاند جانان موسی زي دمشرانو جرګې ددغه څرګندونو په غبرګون کې په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل چې دایران دحکومت دغه تصمیم ناسم دی او دوی له ایراني چارواکو سره تل په ایران کې دمېشتو کډوالو په اړه په تفاهم کې دي .له اعدامونو پرته یوه بله خبره داده چې هلته دا کثره اعدم شوو افغانانو جسدونه بېرته دهغوی په کورنیو پلورل کېږي او هغه هم بېرته په ډېرو واسطو تر لاسه کوي .یوه دوست مې چې په تېر ۱۳۹۰ کال کې یې خپل یو ورور او دکاکا زوی په ایران کې له مړه کېدو وروسته راوړي و وویل چې یو ورور یې په زندان او دکاکا زوی دبرېښنا دشارتۍ په یوه پېښه کې ووژل شول خو دوی دصاحب منصبانو او دزاهدان ښار پولیسو ته له ګڼو رشوتونو او زاریو وروسته په دې وتوانېدل چې دهغوی جسدونه تر لاسه کړي خو کله یې چې دهغوی جسدونه وکتل نو له پښو نیولې او ان ترسره پورې دعملیاتو نښې په کې ښکارېدې او چې کله یې وروسته پوښتنې ګروېږنې کړې نو ورته څرګنده شوه چې مړي یې دزاهدان دطبي ادارو محصلینو ته سپارلي و چې دطب په برخه کې پرې خپلې تجربې وکړي، ده وویل چې حتی دهغوی مغزونه هم په سر کې نه وو پاتې . ددغه کس په وینا چې هلته ګڼ افغانان چې یا اعدامېږي او یا خپله په کار کې دسختو کارونو له امله ومري نو مړی یې بیا دطب پوهنځیو دمصحلینو نجونو او هلکانو لپاره ښه ساعتېري او لوبه وي ، دعملیاتو نوې تجربې او زده کړې پرې عملي کوي.

زنان می تواند بخاطر کاهش و ...

شده و این مکلفیت دولت است اگر چی تا اندازه در این قسمت کار صورت گرفته مثلاً به ارتباط حقوق سیاسی زنان، حقوق اجتماعی زنان، اما به هیچ وجه این بسنده نیست و دولت افغانستان این مسوولیت را دارد که زمینه تامین حقوق زنان را فراهم بسازد و گزارش که لازم است باید به شورای امنیت ارایه نماید."

این قطعنامه که بنام قطعنامه ۱۳۲۵ یاد می شود در اکتوبر سال ۲۰۰۰ میلادی از سوی شورای امنیت ساز مان ملل متحد تصویب گردیده است.

در این قطعنامه از کشور های عضو این سازمان خواسته شده است تا به حقوق زنان توجه نمایند و برای زنان نقش داده شود تا در جهت تامین صلح و جلو گیری از مشکلات سهم فعال داشته باشند.

اما شماری از سناتوران در مورد محتویات این قطعنامه مخالفت کرده می گویند، در شرایط کنونی زنان نمی توانند در تامین صلح نقش داشته باشند.

پس از بحث های طولانی، محمد اعلم ایزدیار معاون اول مشرانو جرگه از حکومت افغانستان خواست تا به گونه درست و در روشنایی قانون اساسی این قطعنامه را عملی نماید.

"نه تنها در افغانستان بلکه به سطح بین المللی زنان و دختران از جهت های مختلف به مشکلات و کمبود ها مواجه هستند من امیدوار هستم که در کشور ما افغانستان مطابق به قانون اساسی ما و خواست مردم ما این جنبه عملی پیدا نماید و حکومت ما ضمانت های تطبیقی آنرا به طرف مقابل ارایه نماید. "

معاون اول مشرانو جرگه در حالی خواهان تطبیق این قطعنامه شد که شماری از وکلا از حضور خانم ها در پروسه صلح مخالفت کردند. آنان گفته اند که زنان نمی توانند نقش مهم را در گفتگو با طالبان ایفا نمایند.

این نظریات در حالی مطرح می شوند که شورای عالی صلح افغانستان بر نقش زنان در مذاکرات صلح تاکید می کنند. مسوولان این شورا گفته اند که زن ها می توانند مسوولیت شان را در این راستا بگونه درست ادا نمایند.

د ستراتیژیک سند د تطبیق په ...

په سیاسي، امنیتي او نورو برخو کې همکاري کوي:

"په ټولو برخو امنیتي، پراختیایي، سیاسي پروسه، دولت داري او د سولې د پروسې په اړه مو خبرې وکړې.

د دې ترڅنګ د پوهنې او فرهنګي مسایلو په اړه او په دې برخه کې د بریتانیې د مرستو په هکله مو هم مهم بحثونه وکړل.

په دې هم خبرې وشوې، چې دا همکاري به په راتلونکې کې څنګه دوام ومومي د ستراتیژیکو همکاریو د سند د تطبیق لپاره څه ډول میکانیزم او پروسه رامنځ ته شي. "

د افغانستان او بریتانیې ترمنځ د روان میلادي کال په لومړیو کې د ستراتیژیکو همکاریو سند لاسلیک شو، چې له مخې یې بریتانیا له افغانستان سره په پوځي، سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او داسې نورو برخو کې خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

د بریتانیې د بهرنیو چارو وزارت مرستیالې بارونس سعیده وارسي څرګنده کړه، چې هېواد به یې له افغانستان سره خپلو مرستوته د تیر په شان دوام ورکړي او هیڅکله به بریتانیا او نړیواله ټولنه د دې په خبره هغه تیروتنه تکرار نه کړي، چې شل کاله مخکې یې کړې وه او دا هېواد یې یوازې پرېښود.

سعیدې وارسي وویل، چې بریتانیا به د افغانستان د پراختیا او اقتصادي ودې لپاره ډیرې هلې ځلې وکړي او د دې هېواد د امنیتي ځواکونو پیاوړتیا او له تروریزم سره جدي مبارزه هم د بریتانیا له مهمو اهدافو څخه بلل کیږي:

"دا ستراتیژیک سند څرګندوي، چې بریتانیا د یوې اوږدې مودې لپاره د افغانستان له حکومت او خلکو سره ده او په بیلا بیلو برخو کې له دې هیواد سره مرسته کوي.

له ۲۰۱۴ میلادي کال وروسته هم له افغان حکومت سره خپل کار او همکاریو ته دوام ورکوو.

موږ په افغانستان کې ښه پرمختګونه وینو له ا منیت نه نیولې تر سیاسي برخو پورې، له دولت دارۍ نه د قانون ترعملي کیدو او له اقتصادي پرمختګونو نیولې تر فرهنګي زیربناوو پورې ".

د بریتانیې د بهرنیو چارو وزارت مرستیاله درې ورځې مخکې کابل ته راغلې او تراوسه یې د کابینې له یوشمیر غړو،د ملي شورا د دواړو جرګو له مشرانو او نورو افغان چارواکو سره کتلې دي.

دې ټینګار وکړ چې د بشري حقونو خوندیتوب په تیره د ښځو حقوق او د ډموکراسۍ پیاوړتیا دوی ته لومړیتوب لري او په دې برخه کې هر راز مرستې او همکارۍ ته چمتو دي.

بریتانیا له امریکا وروسته په افغانستان کې ډېر سرتیري لري او له مهمو مرسته کوونکو هیوادونو څخه دی.

د بریتانیا سرتیري ترډېره د هلمند په نا ارامه ولایت کې فعالیت لري چیرې چې له بل هرځای نه ډیر کوکنار کرل کیږي.

په کندهار کې د شنبې ورځې ...

افغانستان د ملي امنیت د ریاست یو پلاوی دې دفتر ته تازه ورسېد چې دغه دفتر ته نوي فرنیچر وسپاري.

افغان چارواکو د حملې په هماغه لومړیو کې وویل چې ځانمرګی په موټرسایکل سپور و او د دفتر مخته یې ځان والوځاوه. وسله والو طالبانو هم د حملې مسوولیت په غاړه اخیستی و، ویلي یې و چې ځانمرګی برید دوی کړی دی. طالبانو په حمله کې د خپل نفوذي د رول یادونه نه وه کړې.

خو ایتلافي ځواکونو نن وویل چې حمله کوونکی له بهره نه و راغلی بلکې د افغانستان د استخباراتو غړی و.

ایتلافي ځواکونه وایي چې افغان استخباراتي مامور تر یونیفورم لاندې د ځانوژنې واسکټ اغوستی و او ځان یې دفتر ته د پلاوي له رسېدو لږ وروسته والوځاوه.

په چاودنه کې یو امریکایي پوځي صاحب منصب له یوه امریکایي عسکر او دغه راز د کندهار ولایت د ملي امنیت د مرستیال رییس غلام رسول په شمول دوه افغان ساتونکي او دوه استخباراتي مامورین ووژل.

د افغانستان د ملي امنیت د ریاست یوه ویندوی وویل چې ځانمرګی د ملي امنیت کارکوونکی نه و. د شفیق طاهري په وینا ځانمرګي د افغان امنیتي ځواکونو له یونیفورمه په استفادې برید کړی خو په هیڅ صورت د ملي امنیت غړی نه و.

ده په عین حال کې وویل چې د دې برید په اړه لا هم تحقیقات روان دي.

سږ کال له دې بریده جلا د افغان امنیتي ځواکونو له منځه په څه باندې دېرشو بریدونو کې د ناټو لږترلږه ۵۳ سرتېري وژل شوي دي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
اونیزه شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤل مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمیرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤل مدیر ۰۷۷۷۶۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوې مطالب نه مسترد کېږي. یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل، افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com